2 017550 139621

# مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د اپرېل څلورمه | ۷۰۲یمه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### رهنورد پوهنتون

رهنورد پوهنتون ټولټال ۲۰۰ استادان لري، چې له ډلې يې ۷۰ سلنه تر ماسټرۍ او پاتې نور يې بيا د لسانس تر کچې لوړې زده کړې لري.



## د مذاکراتو د چټکتيا هڅې؛

### د استانبول غونډه د روانې اپرېل په ۱۶مه د لسو ورځو لپاره ځوړېږي




### کرنې رياست: په بغلان کې ۳۲۸ زېرمې او سړې خونې جوړې شوې



د بغلان د کرنې رياست چارواکي وايي چې په دغه ولايت کې ۳۲۸زېرمې او سړې خونې جوړې شوې دي.
د بغلان د کرنې رياست د ترويج لوی مدير عبدالمحمود غفوري ويلي چې په دغه ولايت کې د ۳۲۸زېرمو په جوړولو سره د زراعتي محصولاتو د ساتنې لپاره د زېرمو د نشتوالي له پلوه د بغلان د بزګرانو ستونزې هوارې شوې دي.
نوموړي زياته کړې، چې دغه سړې خونې او زېرمې د کرنې د ودې او پراختيا او د بزګرانو او بڼوالو د مالي بنسټ د پياوړتيا په مقصد جوړې شوي دي.
د غفوري په خبره، د دغو زېرمو له ډلې ۱۰۰زېرمې د الوګانو ۲۰۰ زېرمې د پيازو او ۲۸ سړې خونې د بڼوالو د مېوو د ساتنې لپاره دي، چې د بغلان په مرکز پلخمري ښار او ۱۳ ولسواليو کې جوړې شوې دي.
په دغو پروژو ۱٦٦ ميليونه افغانۍ لګول شوې، چې د کرنې او اوبو لګولو وزارت له بودجې څخه ورکړل شوې دي.

### د سولې لپاره ولې بايد يوازې پر يوه طرحه ټينګار وشي؟

۲ مخ

### اوږده مزلونه او ورک منزلونه

۲ مخ

### بايدن که ملا برادر؛ کوم يو جدي دی؟

۳ مخ

## راپور: له وسله والو د پاکستان ملاتړ د افغان جګړې د اوږدېدو لامل شوی

د امريکا د کانګرېس لپاره په چمتو شوي راپور کې راغلي، چې پاکستان لا هم په افغانستان کې د وسله والو ډلو په ځانګړې توګه، د حقاني شبکې ملاتړ کوي. د کانګريګېشنل ريسرچ سرويس له خوا د امريکا کانګرېس ته په تيار شوي راپور کې راغلي، چې د پاکستان پوځ په افغانستان کې د وسله والو ډلو ملاتړ ته دوام ورکړی دی.
په ياد راپور کې دغه راز ټينګار شوی، چې پاکستان د افغان کشالې په اوارې کې مهم رول لري او بايد ورباندې فشار راوړل شي، تر څو په دې برخه کې خپل مثبت رول په سمه توګه ادا کړي. د راپور له مخې، په افغانستان کې له ترهګرو ډلو څخه د پاکستان ملاتړ په دغه هېواد کې د جګړې د اوږدېدو سبب شوی دی.
پاکستان تازه په دې اړه غبرګون نه دی ښودلی، خو تر دې وړاندې يې ويلي چې دوی پر وسله والو ډلو له غير مستقيمو لارو اغېز لري او د افغان سولې پروسې بريا لپاره به له خپل نفوذه استفاده وکړي.
د امريکا کانګرېس ته په چمتو شوي راپور کې داسې مهال پاکستان په افغانستان کې له جنګېدونکو وسله والو په ملاتړ تورن شوی، چې تر دې وړاندې هم د افغان حکومت په ګډون امريکا او نورو هېوادونو او نړيوالو سازمانونو پاکستان له ترهګرو په ملاتړ تورن کړی دی.

### عامې روغتيا وزارت: افغانستان د کرونا ويروس د دريمې څپې له ګواښ سره مخ دی



۵ مخ

### محب:
### تاهنگامی که روی صلح توافق نشود رئیس‌جمهور کنار نخواهد رفت



حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رییس جمهور غنی می گوید تا هنگامی که روی یک صلح واقعی توافق نشود، رئیس جمهور زیر هیچ گونه فشاری قدرت را انتقال نخواهد داد.
آقای محب دیروز در یک نشست خبری مشترک با مسؤلان ارشد امنیتی سخن می‌زد، تأکید کرد که اگر انتخابات زودهنگام برگزار شود، آقای غنی در آن نامزد نخواهد شد.
محب گفت: «یک حکومتی که برای صلح کار کند یعنی در آخیر آن حکومت یک حکومت انتخابی بوجود بیاید چندین‌بار گفته شده است و رئیس‌جمهور این را اعلام هم کردند و گفتند که حاضر استم انتخابات را زودهنگام بگیرم در شش ماه می‌شود، در سه ماه می‌شود و خود شان هم به آن حکومت کاندیدنیست.»
آقای محب افزود که تاکنون روی آجندا، زمان برگزاری و افراد شرکت کنندهٔ نشست ترکیه توافق نشده‌است اما انقره می کوشد که این نشست موفقانه به انجام برسد: «نه بالای آجندای موافقت صورت گرفته و نه بالای افرادی که اشتراک می کنند و نه بالای تاریخ آن کدام موافقه شده‌است.»
حمدالله محب گفت که تاکنون دربارهٔ نشست ترکیه و کنار آمدن با طالبان پیشرفتی صورت نگرفته‌است. این مسؤولان ارشد امنیتی در نشست خبری امروز باردیگر تأکید کردند که طالبان از پاکستان دستور می گیرند.



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life

دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د سولې لپاره ولې باید یوازې پر یوه طرحه ټینګار وشي؟

د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار وایي چې د سولې لپاره افغان حکومت هر ډول قرباني ته تیار دی، خو د زور له لارې طالبانو ته واک نه پرېږدي. نوموړي ویلي چې حکومتي چارواکي د فشار له لارې داسې نه کوي چې له مسوولیت خپلې اوږې سپکې کړي او واک پرېږدي. نوموړي دا هم ویلي چې له وخت مخکې ټاکنو ته تیار دي، چې پکې به ولسمشر کاندید نه وي. نوموړي طالبان تورن کړي چې تاوتریخوالی یې زیات کړی او د سولې اراده نه لري.

له وخت مخکې ټاکنې یوه لاره ده، خو دا هر ډول قرباني نه ده، ځکه نو حکومتي چارواکي باید دا یوازینۍ طرحه ونه ګڼي. دوی حق لري چې دا طرحه وړاندې کړي او له نورو سره یې شریکه کړي، خو دا په دې مانا نه ده چې دا یوازینۍ لاره ده او بله هېڅ لاره نشته.

د سولې لپاره د دې طرحې په ګډون، ټولې طرحې باید هر اړخیزې و ارزول شي. هغه طرحه چې معقوله او عملي وي، باید ومنل شي. د دې تر څنګ طرحه باید داسې وي، چې له سولې سره مرسته وکړي او د یو بل د چپه کولو هڅه نه وي. له همدې امله پکار ده چې ټولې طرحې و ارزول شي او بیا یوه پکې وټاکل شي.

له وخت وړاندې ټاکنې یوه طرحه ده، خو جدي ستونزې لري. تېرې ټاکنې دومره لانجمنې او ستونزمنې وې چې اوس عام خلک هم په ټاکنو باور نه لري. دویمه ستونزه دا ده چې کله ټول حکومت د یوه اړخ په لاس کې وي، نو بیا څنګه به بل لوری ومني چې په دې ټاکنو کې برخه واخلي!؟ دا چاره یوازې په ناظرینو نه حل کېږي، ځکه څوک چې په واک کې وي او سیستم څرخوي، هغه په طبیعي ډول په ټاکنو کې په خپله ګټه ډېر څه کولی شي. له همدې امله مقابل اړخ به زړه ښه نه کړي چې ټاکنو ته را وړاندې شي. بله مهمه خبره دا ده چې ټاکنې د څه لپاره کېږي؟ که ټاکنې د جمهوري ریاست لپاره کېږي، نو چې طالبان جمهوریت نه مني او متنازع وي، نو بیا به څنګه د هغو لپاره په ټاکنو کې برخه واخلي. د دې تر څنګ د حکومت دا طرحه ډېرې نورې ستونزې هم لري، چې ښیي دا طرحه عملي نه ده او تر ډېره یو اړخیزه ده.

که خبره رښتیا د هر ډول قربانۍ وي، د هر ډول قربانۍ یوه لاره همدا ده چې پر متفاوتو طرحو کار وشي. تر ټولو معقوله او علمي طرحه چې ګواښونه کموي او د سولې چاره یقیني کوي، باید وټاکل شي او عملي شي. د دې لپاره د انتقالي، موقت یا سرپرست حکومت طرحه هم د تأمل وړ ده. البته هېڅوک نه غواړي چې نظام ړنګ شي او هرڅه له صفره پیل شي، بلکې همدا حکومتي جوړښت باید وي او مشري یې باید داسې وي چې د سرپرست یا انتقالي ماهیت ولري. دا طرحه هم تر ډېره عملي او معقوله ښکاري او هم به طالبانو ته تر یوې اندازې د منلو وړ وي.

له بده مرغه لا هم په نیتونو کې ستونزې دي او پکار ده چې دواړه اړخونه خپل نیتونه او ارادې سمې کړي او د یوې واقعي سولې لپاره کار وکړي.

# اوږده مزلونه او ورک منزلونه

عبدالوحید وحید

که د تېرو څلورو لسیزو د نظامونو د ناکامۍ لاملونه وڅېړو، نو په فکري- نظریاتي او سیاسي لیدلوریو کې له زیاتو اختلافاتو او توپیرونو سره سره یې د ناکامۍ مشترک لاملونه درلودل.

له کمونیستانو، مجاهدینو او طالبانو رانیولې تر ننني ډیموکراسۍ پورې د ټولو د ناکامۍ مشترکه ستونزه د واک انحصاري فکر، افراطي کړنې او د افغانستان په دودیزه- عنعنوي ټولنه باندې له معتقداتو نیمګړی تعبیر او له ذهنیت جوړولو پرته له بهر څخه وارد شوي دودونه او نظریات تپل ګڼلای شو.

خلق او پرچم نه یوازې واک مطلقاً انحصار کړی و، بلکې هغه تیوریک سوسیالیستي نظریات یې زمونږ پر ټولنه باندې له افراطي ذهنیت سره د ډنډې په زور عملي کولو هڅه وکړه، چې د مسکو کمونیستانو هم په همدغه شدله توګه نه وه عملي کړې. دغو دواړو ډلو له څوارلس کاله ناکامې جګړې وروسته د خپلمنځي اختلافاتو له امله د مجاهدینو له داسې ډلو سره یو ځای شول، چې د واک د انحصار مفکوره یې درلوده.

د مجاهدینو ډېری مشران هم د واک د انحصار په رنځ اخته شول. دیني او ملي رسالتونه او ټولنیز ارزښتونه یې په پام کې نه نیول. په یوه او بله بانه د واک په سر جګړه کې لتاړ شول او کابل یې ونړاوه. ملي او شخصي شتمنۍ چور شوې او د خپلواکۍ مقدسه جګړه بدنامه او د ازادۍ د لارې د سپېڅلو شهیدانو له وینې سره یې خیانت وکړ.

طالبان چې د افغان ټولنیز بدن یوه محرومه مذهبي ډله وه، د کورنیو جګړو د ختمولو لپاره راپورته شوه، ولسي ملاتړ یې تر لاسه کړ؛ خو د واک تر لاسه کولو وروسته یې خپل حکومت ته انحصاري بڼه ورکړه. په کور دننه او بهرنۍ تګلارو کې یې د افراطیت او د نورو د نفې کولو سیاست پر مخ یوړ. په لومړي سر کې د واک وړي تړي نه وو، خو پر نورو افغانانو باندې د بې باورۍ له امله یې په یوازې سر حکومت کول غوره وګڼل او همدغه نفسیاتي ستونزه د هغوی د ناکامۍ لامل شوه.

د ډیموکراسۍ په تېرو دوو لسیزو کې هم واک عمدتاً د کورنیو جګړو د یوې خوا او له لوېدیځ څخه د راغلو ترمنځ وویشل شو او عمدتاً د بُن د ناستې ویش د نورو له شرکت پرته انحصاري شکل ونیو. په ځینو مواردو کې لکه د ټاکنو د بنسټ اېښودلو، د بیان ازادي، زده کړه، اقتصادي ودې، د بنسټونو ودانولو، نړیوالو اړیکو رغولو او په ځینو نورو برخو کې له جزوي او ټکنیو لاسته راوړنو سره سره پر افغان ټولنه باندې د ډیموکراسۍ او له ترهګرۍ سره د جګړې په نوم د فساد ظلم وحشت داسې څپې تېرې شوې او لاهم دوام لري، چې افغانانو په ولسواکي او د ډیموکراسۍ پر سیستم باندې باور له لاسه ورکړ.

د مخالف اړخ لخوا د ژوند ګواښل کېدو په مقابل کې پیاوړې فکري روزنه، عقیدوي تړون، مستحکم عزم، پیاوړې اراده، د امیر د اطاعت کلک هوډ، له فساد څخه پاک، بې تکلفه ساده ژوند، له تشریفاتي پېچلتیا څخه پاکه اداره او قربانۍ لپاره تیاری د طالبانو د قوت لاملونه وو.

البته د واک انحصاري ذهنیت، پر نورو افغانانو باندې بشپړه بې باوري، کمزوری سیاسي لیدلوری، ټکنۍ پوهنیزې وړتیاوې، له معاصرې ټکنالوژۍ سره بېځایه حساسیت، د ښځو پر زده کړو باندې بندیز، د رسمي ادارو له پرنسیپونو او ډیپلوماتیکو تعاملاتو سره نابلدتیا، د ولسي مشارکت په برخه کې ستونزې او د پردیو تر اغېزو لاندې راتلل د طالبانو د ضعف اړخونه ګڼلای شو.

د افغانستان جغرافیایي، قومي، مذهبي او ژبني جوړښت ته په کتو دلته هیڅ داسې سیستم او نظام د چلن وړ نه دی، چې له ذهنیت جوړولو پرته له بهر څخه را کاپي او دلته یې د عملي کولو هڅه وشي. افغان ټولنه له نورو ټولنو سره نشي پرتله کېدای. دغه ولس بالکل متفاوتې مذهبي او دودیزې ځانګړتیاوې لري. داسې ځانګړتیاوې چې ماتول یې حساسیتونه او غبرګونونه راپاروي. زمونږ ټولنه هغه مهال بدلون مني چې بدلون د ټولنې له دودیزو او عقیدوي اړخونو سره په تقابل کې نه وي.

مطلب دا دی چې زمونږ په هیواد کې د اوس لپاره چې زمونږ ټولنیز جوړښتونه پاشل شوي دي، یو عادل، متمرکز، قانون پلی کوونکی ولسواک نظام چې زعامت یې د ولس په مستقیمه رایه ټاکل شوی وي، د چلن وړ دی؛ خو په ټاکنیز سیستم کې له خورا سترو او ژورو اصلاحاتو وروسته دغه ډول نظام زمونږ د ستونزو د حللاره ګڼلای شو.

د یادونې وړ ده چې د ښځو د حقونو او په ځینو نورو دیني او کلتوري برخو کې مونږ باید ډېر محتاط واوسو. لومړی خبره خو دا ده چې د ښځو د حقونو په برخه کې د ډیموکراسۍ په مخکښو هیوادونو کې هم له سرېو سره انډول نه لیدل کېږي. په امریکا کې له څلویښتو زیات ولسمشران راغلي دي؛ خو یوه هم پکې ښځه نشته. مونږ باید د داسې سمون لپاره مبارزه وکړو چې له دیني او دودیزو برخو سره په تقابل کې نه وي او حساسیتونه نه را پاروي. په ځینو نورو برخو کې باید ذهنیت جوړونه وکړو. همدغه کار زمونږ ځیني دیني عالمان او قومي مشران اوس هم کوي. د بېلګې په توګه، څلور لسیزې وړاندې په لرې پرتو سیمو کې د نرانو زده کړه هم ښه نه ګڼل کېده، خو علماوو او روښنفکرانو مبارزه وکړه. اوس خلک په لرې پرتو سیمو کې د هلکانو تر څنګ، نجونې هم د زده کړو لپاره ښوونځیو او مدرسو ته استوي. دا ښه او په زړه پورې پرمختګ دی.

بله برخه د ښځو د کار کولو او د پلار په مال کې میراث ورکولو ده. دا هغه برخې دي چې ښځې مالي برخه کې واکمنې کوي، د ځان بساینې لوري ته یې وړي او له دیني اړخ سره هم په ټکر کې نه دي، خو په ځینو سیمو کې د کلتوري ستونزو له امله معیوب ګڼل کېږي. دلته مونږ باید لومړی ذهنیت جوړونه وکړو، د خلکو باور تر لاسه کړو چې لوراني به یې په خوندي چاپېریال کې زده کړې او کار کوي او بیا مخکې لاړ شو.

سمه ده چې د ښځو ونډه په جګړه کې لوړه نه ده او یا هم د نشت برابر ده، خو باید ومنو چې د نرانو په پرتله د جګړو ناوړه اغیزې د نرانو په پرتله پر ښځو باندې زیاتې پرېوځي. جګړې له ښځو او ماشومانو څخه د سر پړوني، د ځیګر ټوټې، د ژوند ملګري، د سر سیورۍ، د شفقت چتر او مجازي روزي رسان اخلي. ښځې باید په سوله کې هم مهم رول ولوبوي، خو ستونزه دا ده چې کله هم د ښځو د امتیازي رول خبره یادېږي، نو امتیاز هغو ښځو ته ورکول کېږي چې له جګړې څخه په مستقیم او غیرمستقیم ډول د جګړو له ناخوالو څخه اغېزمنې نه وي. وړاندیز مو دا دی چې افغانان په جنسیت، عمر، کتله او ډله باندې له ویش پرته د اسلامي او افغاني دود او دستور په چوکاټ کې د سولې پروسه مخ پر وړاندې یوړل شي.

دنیا اوسمهال یو نړیوال کلی بلل کېږي او که د کلي په کوم کور کې اور بلېږي، نو پاتې ټول کلی حتماً اندېښنه کوي. په دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو د ناکامۍ له امله د ولس ناهیلي او د افغان شخړې له اوږد او دروند بار څخه د نړیوالې ټولنې په ځانګړي ډول د امریکا د متحده ایالاتو سترګې د مسکو د ټرایکا ناستې ته لاره پرانیستله او په یقیني توګه ویلای شو، چې د ترکیې راتلونکې ناسته به عادي نه؛ بلکې برخلیک ټاکونکې ناسته وي.

داسې نښانې شته چې مونږ له بُن څخه تر دوحې پورې د دوو لسیزو اوږد له کندونو، کږلېچونو، ستونزو او کړاونو ډک سفر درلود. مزلونه مو وکړل؛ خو د منزل څرک لاهم نه لګېږي. له شل کاله جګړې وروسته هم د افغانستان حکومت او نړیوالې ټولنې له خپل پراخ شتون سره سره هم ونشو کولای، چې ستونزو ته د پای ټکی کېږدي. ټولې خواوې اوس پوه شوې چې په بُن کې یې د طالبانو د نفې کولو سیاست ډېرې ستونزې وزېږولې، سلګونه زره انسانان ووژل شول، ستر لګښتونه وشول؛ خو جګړه لاهم دوام لري او راتلونکې لاهم تیاره ښکاري. تېرکال امریکا له طالبانو سره په چلن کې خورا ستر انعطاف وښود. هوکړه لیک یې ورسره لاسلیک کړ؛ خو په افغانستان کې د تاوتریخوالي کچه لاهم په لوړېدو ده.

د مسکو د غونډې له پیل او د نړیوالې ټولنې د دلچسپۍ زیاتېدلو ته، افغانان د هیله منۍ او ناهیلۍ ترمنځ په نیک شګون ګوري او د جګړې د ختمولو لپاره یې د ترکیې په ناسته پورې د خپلو هیلو مراندې تړلې دي. سپارښتنه مو دا ده چې د بُن سهوې دلته تکرار نشي. په دغه ناسته کې هیڅ اړخ چې په بالفعل او بالقوه توګه د افغانستان راتلونکې ګواښولای شي، نفې نشي. د سمت نسل او مذهب په تله نه، بلکې سولې ته ژمنتیا معیار وګرزي او داسې اغېزمنو خواوو باندې تمرکز وشي چې د هېواد په لرې پرتو سیمو کې ټولنیز اثر او رسوخ ولري. ولس یې خبرو باندې باور وکړي او پر فساد او تعصباتو باندې تورن نه وي. د دې لپاره چې د جګړو شدت عمدتاً په لرې پرتو سیمو کې وي، نو له بهر څخه د راغلو او د ښاري خلکو په پرتله په زده کړو سمبال د لرې پرتو سیمو مذهبي او ولسي مشران پکې محوري رول ولري.

## افغان چارواکي: طالبان د جګړې د زیاتوالي لپاره چمتووالی نیسي

افغان لوړپوړي امنیتي او دفاعي چارواکي وایي، چې طالبان په افغانستان کې د جګړې زیاتوالي لپاره چمتووالی نیسي.

د ملي امنیت رییس احمد ضیا سراج پرون په کابل کې په یوې خبري ناستې کې وویل: «طالبان د جګړې لپاره چمتووالی نیسي او د سولې لپاره اراده نه لري. اوسمهال د کوکنارو د حاصلاتو پر ټولولو اخته دي. د دې وروسته په پام کې لري چې په بېلابېلو سیمو کې جګړه زوروره کړي.»

په یادې غونډې کې د کورنیو چارو وزارت سرپرست حیات الله حیات هم وویل چې د پسرلي په پیلېدو طالبانو په ځینو ښارونو کې بریدونه پراخ کړي دي. هغه زیاته کړې: «موږ ټولو پولیسو ته هدایت ورکړی، چې د دغو بریدونو په شنډولو کې زیار ونه سپموي.»

افغان چارواکي وایي، چې اوسمهال هم د طالبانو پټنځایونه او روزنځایونه په پاکستان کې دي. د دفاع سرپرست وزیر



جنرال یاسین ضیا په دې غونډې کې وویل: «د طالبانو ټول تعلیمي مرکزونه، روغتونونه په پاکستان کې دي او له همغه ځایه یې ملاتړ کېږي.»

ضیا زیاته کړه، چې پاکستاني چارواکو په ځلونو په درې اړخیزو او څلور اړخیزو ناستو کې دا منلې چې د دغې ډلې پټنځایونه په پاکستان کې دي.

په ورته مهال د ملي امنیت رییس زیاتوي، چې طالبان په افغانستان کې روزنیز مرکزونه نه لري. بلخوا پاکستان د افغان چارواکو دغه خبرې رد کړې دي. طالبانو بیا د افغان چارواکو تازه څرګندونو ته په غبرګون کې څه نه دي ویلي، خو تر دې وړاندې یې دا ډول ادعاوې او تورونه رد کړې دي.

افغان چارواکي داسې مهال دا څرګندونې کوي، چې په دې وروسیتو کې د هېواد په ګڼو ولایتونو کې جګړو او نښتو زور اخیستی او هره ورځ پکې پر ښکېلو خواوو سربېره، ملکیانو ته هم درنه مرګ ژوبله اوړي.

# بایډن که ملا برادر؛ کوم یو جدي دی؟

نظرمحمد مطمئن

د مسکو ناستې ته تر ډېره تمې نه وې، یوازې د جوبایډن پر اداره او د بین الافغاني خبرو د چټکتیا په موخه ناسته ترتیب شوې وه.
د مسکو ناسته کې له افغان سیاسي مشرانو سره د طالب مشرانو سوړ چلند هغوی لا زیات د راتلونکي په اړه ناهیلي کړل، حامد کرزی، د اهل تشیع، تاجکو او ازبکو مشران فکر کوي چې طالبان بیاځل د واک انحصار ته ځان چمتو کوي.
مسکو غونډه کې د استاد سیاف، عطاء نور، صلاح الدین رباني او تورن اسماعیل نه گډون، د امریکا بدې ارادې ښیي.
د امریکا نوې اداره د پوځیانو ایستلو په اړه په تردد کې ده، که د وتلو او یا پاتې کېدو پرېکړه کوي، پرته له شکه په دواړو کې یې تاوان دی، نو له همدې امله ده چې د سولې انتقالي حکومت په نوم یې طرحه چمتو کړې، څو د ترکیې غونډه کې طالبان او سیاسي ډلې + حکومت ورباندې بحث او توافق ته نږدې شي.
طالبان اندېښنه لري؛ که په نوي طرحه بحثونو کوي، د امریکا- طالبانو تړون بې مانا کېږي او له تړون څخه بل لور ته مخ گرځول دي، چې دا نوی بهیر به بیا ډېر وخت بحثونه او مذاکرات غواړي.
طالبان له لومړي سره په دې فکر وو چې د افغان حکومت د بین الافغاني مذاکراتو ډله واک له ځان سره نه لري، مگر د گاونډیو، سیمې او نړیوالو فشارونو له کبله یې ومنله چې له یو کمزوري پلاوي سره خبرو ته زړه نا زړه کېني.
امریکایي رسنیو راپور ورکړ چې بایډن غواړي تر مې میاشت وروسته هم په افغانستان کې خپل پوځیان پرېږدي، طالبانو دغه ډول څرگندونو ته سخت غبرگون وښود، ویې ویل که د امریکا- طالبانو تړون نه عملي کېږي، بهرني ځواکونه پر خپل وخت ونه وځي، د جگړې د شدت مسووله به امریکا وي او پر امریکایي- ناټو ځواکونو به مرگوني بریدونه بیاځلي پیل کړي.
له دې سره به د طالبانو او افغان حکومت پلاوو تر منځ د بین الافغاني مذاکراتو پخ بهیر هم په ټپه ودرېږي.
جوبایډن به د امریکایي ځواکونو پر پاتېدو او یا وتلو کې مشکوک وي، خو ملا بردار بیا په دې کې قاطع دی چې د امریکایي ځواکونو پاتېدو په صورت کې به د بهرنیانو او افغان حکومت پر وړاندې جگړې ته شدت ورکړي او مذاکرات به سمدستي په ټپه ودروي.
بل لور به نظامي طالبانو ته د جگړې د شدت قوي دلیل پیدا شي، د معلوماتو پر بنسټ؛ له تړون وروسته د طالبانو د قطر سیاسي دفتر ډېرې هڅې کړې چې نظامي طالبان د جگړو له شدت څخه را وگرځوي. که تړون مات شي، دا به سخته وي چې د طالبانو او امریکا ترمنځ بیاځل باور ورغول شي او همدارنگه د نړیوالو اسلامي جنگیالیو موضوع به هم نړۍ او امریکا ته سرخوږی جوړ کړي.
افغان حکومت پخوانیو جنگسالارانو ته د وسلو ویش پیل کړی، په دې کې هند او د منځنۍ اسیا ځینې هیوادونه له حکومت سره مرسته کوي، په ازبکو کې قیصاري، هزاره‌وو کې علي پور او تاجکو کې احمد مسعود کیدای شي د کورنۍ جگړې نوې لوبغاړي وي.
که طالبان فکر کوي چې له ټولو مخالفو سیاسي گوندونو + حکومتي پوځیانو سر به یوازې له نظامي لارې موضوع یو طرفه کوي؛ هغه تېروتنه ده چې په ۱۳۷۱ کال کې حزب اسلامي وکړه، نه یې جگړه وگټله او نه یې په حکومت کې ور برخه تر لاسه کړه.
امریکا او اروپا کرونا سخت ځپلي، غواړي د افغانانو ترمنځ جوړجاړی وشي، په افغانستان کې د خپلو پوځیانو او افغان حکومت درنو مالي لگښتونو ته په اندېښنه کې دي، مگر دا هم ورته سخته ده چې ټول واک او نظام دې طالبانو ته د طالبانو په خوښه وسپارل شي.
امریکا له روسیې، چین، ترکیې او ایران سره ستونزې لري، اوسمهال یوازې افغانستان د همدې متخاصمو هیوادونو لخوا پر یو بل د فشار په ډول کارول کیدای شي. په دغسې حالت کې طالبانو ته هم پکار ده چې د امریکا او نړۍ سترو قوتونو اندېښنو ته ور او نسبي قانع کوونکې وضاحتونه ولري.
که طالبان فکر کوي چې د امریکا- ناټو پوځیانو تر وتلو وروسته به په زور کابل ونیسي؛ کیدای شي، مگر چې نړۍ یې په رسمیت ونه پېژني، نړیوال ملاتړ ونه لري، سیاسي گوندونه او لړکي له ځان سره ملگري نه کړي، پرته له شکه په کور دننه او بهر به ډېرې ستونزې ورته پیدا شي. ښه به وي چې له امریکا، روسیې او چین سره مسلسلې ناستې وشي او د هغوی اندېښنې لرې کړي.
څو چې امریکا ډاډ تر لاسه نه کړي، گرانه به وي چې بین الافغاني مذاکرات پایله ولري.
کیدای شي د گډوډۍ لور ته افغانان ولاړ شي، ښه به وي چې له دې موقع څخه گټه پورته او امریکا وهڅول شي چې افغان حکومت + سیاسي ډلې هم جوړجاړي ته چمتو؛ خو چې طالبان هم بدلون او انعطاف ومني.
پکار وه چې د امریکا- طالبانو له تړون وروسته طالبانو امریکا او اروپا ته هم سفرونه کړي وای، د امریکا او اروپا په سیاست کې اغېز لرونکو ډلو او اشخاصو سره یې لیدنې کړې وای، اوس هم اړتیا او ناوخته نه ده.
ډاکټر غني تر ډېره په خپله کمزورې حکمرانۍ کې بیا هم ځکه بریالی دی چې یو ډول یې امریکا او اروپا وېرولي چې له طالبانو سره د نړیوالو جوړجاړې یې ځنډولی. د طالبانو ۷۰۰۰ بندیان لا هم نه دي خوشې شوي، له تور لېست څخه د طالب مشرانو د نومونو لرې کولو قضیه لاهم په خپل ځای پاتې ده او د مسکو په څېر د بې پایلې غونډو گټې هم ډاکټر غني ته ځي.
وروستیو سیاسي حالاتو ته په کتو، ښکاري چې له مسکو او چین سره هم د طالبانو په اړه اندېښنې مخ په زیاتېدو دي. ایران وار له مخه؛ د بین الافغاني مذاکراتو پخ بهیر، مسکو کې له افغان سیاستوالو سره د طالبانو سوړ چلند، د ترکیې ناستې ته د طالبان نه لیوالتیا یې لاملونه کیدای شي.

پایله

که امریکا- ناټو پوځیان له افغانستان څخه وځي او یا د لنډ وخت لپاره پاتې کېږي، څو چې افغانان خپلو منځو کې جوجاړي ته نه وي رسیدلي، بیاځل د کورنۍ جگړې وېره شته.
که د امریکا لخوا تړون ماتېږي، سمه ده چې د طالبانو ۷۰۰۰ بندیان به خلاص نه شي، له تورلېست څخه به یې نومونه ونه وځي، مگر د امریکا پر وړاندې به د طالبانو هغه ژمنه هم پای ومومي چې پر امریکایي او ناټو پوځیانو یې بریدونه تم کړي وو او د افغانستان له خاورې به امریکا ته گواښ نه وي. همدارنگه امریکا به په یوه بې پایلې او نه گټونکې جگړه کې ښکېله پاتې وي.
د مسکو ناستې گټه تر ډېره افغان حکومت ته ولاړه، د سیاسي ډلو مشران چې د طالبانو له سوړ چلند سره مخ شول، اوس به مجبوراً د ډاکټر غني په خوا کې درېږي.
که د ترکیې په ناسته کې د امریکا لخوا جوړه شوې طرحه باندې بحثونه کېږي، بیا یې هم گټه امریکا، افغان سیاسي ډلو او سیاستوالو ته ځي؛ طالبان پکې گټونکي نه دي.
که د واک په عادلانه ویش، داسې نظام چې ټول افغانان پکې خپل ځان او حقونه خوندي ونه گوري؛ په دې برخه کې ژور غور ونه شي، سخته به وي چې جگړه پای ومومي.
که د بین الافغاني خبرو له رسمي پیل وړاندې طالبانو د بین الافغاني خبرو پر چوکاټ او پر خپل محوریت د افغاني حل پر طرحې کار کړی وای، نن به د امریکا لخوا د انتقالي حکومت طرحه نه وړاندې کېده.
پکار ده چې دغو اندېښنو ته په پام سره، طالبان له افغان سیاستوالو او پوهانو سره په مشورې له پاتې فرصت څخه گټه پورته کړي او د افغان کشالې د سیاسي حل نسخه وړاندې کړي.

# د مذاکراتو د چټکتیا هڅې؛

## د استانبول غونډه د روانې اپرېل په ۱٦مه د لسو ورځو لپاره جوړېږي




د افغان سولې په تړاو د سولې د هڅو له چټکتیا سره هممهاله داسې راپورونه خپاره شوي، چې د افغان سولې په تړاو د ترکیې غونډه به د اپرېل میاشتې په نیمایي کې جوړېږي او شاوخوا لس ورځې به دوام کوي.
افغان حکومت هم وایي، چې دغه غونډې ته پلاوی لېږي او د سولې پر هڅو باور لري، خو تر اوسه یې د پلاوي د غړو په اړه معلومات نه دي شریک کړي. له دې راپورونو سره هممهاله افغان حکومت یو ځل بیا ویلي، چې طالبان د زور له لارې نه، بلکې د خبرو له لارې بریا ته رسېدلی شي.
وروسته له هغې چې په دوحه کې بین الافغاني خبرې له ځنډ سره مخ شوې، نو د سولې په برخه کې فعالو هېوادونو د مسکو غونډه دایره کړه او امریکا سپارښتنه کړې، چې د ملگرو ملتونو په حضور کې دې په ترکیه کې غونډه جوړه شي. امریکا له افغان حکومت او طالبانو غوښتي چې په دغو خبرو کې پر شته خنډونو خبرې وکړي او ژر تر ژره یوې پایلې ته سره ورسېږي.
اوس رسنیو ته سرچینو ویلي، چې دغه غونډه به د روانې اپرېل میاشتې په ١٦مه چې د حمل یا وري له ٢٦مې سره برابرېږي، په ترکیه کې جوړېږي. د سرچینې په خبره، دغه غونډه به شاوخوا لس ورځې دوام کوي.
د سرچینې په خبره: «ټاکل شوې چې د استانبول غونډه د اپرېل په ١٦مه چې د حمل ٢٦مه کېږي، جوړه شي. غونډه به شاوخوا لس ورځې دوام کوي».
افغان حکومت، طالبان او یا هم ترکیې تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي. بلخوا افغان حکومت یو ځل بیا ټینگار کړی، چې واک به یوازې د ټاکنو له لارې راتلونکي حکومت ته سپاري. د افغان حکومت د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب په خپلو تازه څرگندونو کې ویلي، چې د زور له لارې طالبان واک ته نه شي رسېدلی او نه هم افغان حکومت چا ته اجازه ورکوي، چې د زور له لارې پر افغانانو حکومت وکړي. د ده په خبره، طالبانو د تاوتریخوالي د دوام له لارې دا ثابته کړه چې دوی د سولې اراده نه لري او غواړي د زور له لارې ځان واک ته ورسوي. هغه زیاته کړې: «طالبانو تاوتریخوالی ډېر کړی دی. ملکي مرگ ژوبله هم لوړه شوې. دا هر څه په دې مانا دي، چې طالبان پر سوله باوري نه دي. دوی د زور له لارې واک ته رسېدل غواړي».
حمدالله محب وایي چې دوی د سولې لپاره هڅه کوي او ولسمشر غني تیار دی، چې تر وخت مخکې ټاکنې وکړي او په دې ټاکنو کې به نوماند هم نه وي، خو هېڅ وخت دې ته نه دی تیار چې واک ته زور له لارې بل چا ته وسپاري. د محب په خبره: «افغان دولت تر وخت مخکې ټاکنو ته چمتو دی او ولسمشر غني به تر وخت مخکې ټاکنو ته ځان نه نوماندوي».
محب همدا راز ویلي چې د ترکیې په ناسته کې به د دوی پلاوی حضور ولري، خو د دغه پلاوي نوملړ یې نه دی خپور کړی او نه یې هم په دې اړه معلومات ورکړي دي.
بلخوا د ملگرو ملتونو استازي تازه هڅې پیل کړې چې د افغانستان د سولې بهیر چټک شي. په افغانستان کې د ملگرو ملتونو د مرستندویه دفتر مشرې دیبورا لاینز په دوحه کې د افغان حکومت او طالبانو له استازو سره کتلي او همدا راز یې د ترکیې او امریکا له استازو سره هم پر افغان سوله خبرې کړې دي. نومورې تمه ښودلې، چې ښکېل لوري ژر تر ژره د سولې یوې هوکړې ته سره ورسېږي او په افغانستان کې روان تاوتریخوالی پای ته ورسول شي.
د سولې په برخه کې د تازه پرمختگونو داسې مهال دي، چې په کور د ننه تاوتریخوالی او هدفي بریدونه ډېر شوي دي. د پلازمېنې په گډون په گڼو ولایتونو کې تاوتریخوالی ډېر شوی او خلک هیله لري، چې ژر تر ژره روان تاوتریخوالی پای ته ورسېږي.

# راپورونه: په میانمار کې د پوځ په ډزو کې لسگونو لاریونوالو ته مرگ ژوبله اوښتې

په میانمار کې عیني شاهدان او رسنۍ وایي چې د دغه هېواد پوځ پر ډیموکراسي پلوو لاریونوالو ډزې کړې، لږ تر لږه پنځه تنه یې وژلي او لسگونه نور یې ټپیان کړي دي. پوځ دغه راز د هغو کسانو د نیولو امر کړی، چې په انلاین بڼه پر پوځ نیوکې کوي.
په میانمار کې د همدې کال د فبروري په میاشت کې پوځ کودتا وکړه، ولسي حکومت یې ړنگ کړ او مشران یې ونیول. د فبروری د میاشتې له لومړۍ راهیسې هلته د پوځ د کودتا پر ضد مظاهرې روانې دي. سره له دې چې پوځ په مظاهرو بندیز لگولی، خو دا مظاهرې د میانمار په مرکز او ځینو نورو لویو او وړو ښارونو کې کېږي. د میانمار ځینو رسنیو ویلي، چې پوځ د شنبې په ورځ په مرکزي ښار مونیوا کې په مظاهره کوونکو ډزې وکړې څلور تنه یې ووژل او لسگونه نور یې ژوبل کړل. د راپورونو له مخې، په دغه ښار کې ورځ په ورځ مظاهرې زیاتېږي. د یاد ښار یوه مظاهره کوونکي وویل، چې پوځ په مظاهره کوونکو مسلسل ډزې کوي. دغه راز یو بل مظاهره کوونکی هم په جنوبي ښار تاڼن کې وژل شوی دی.
په ورته مهال رویټرز خبري اژانس وایي، چې د پوځ په ډزو کې د وژل شویو کسانو شمېر ډېر دی، خو د یاد آژانس په خبره، د میانمار پولیسو او پوځ ویاندویانو ته یې زنگونه وهلي چې په دې اړه ورسره خبرې وکړې، خو وایي، چې په دې تړاو یې جزیات نه دي ترلاسه کړي.
په ورته مهال په میانمار کې له سیاسي بندیانو سره د مرستې گروپ په یوې اعلامیې کې ویلي، چې پوځ د فبروری له لومړۍ نېټې راهیسې ۵۵۰مظاهره کوونکي وژلي، چې ۴٦ یې ماشومان دي. امریکا او ځینو نورو هېوادونو په میانمار کې د پوځ دغه کودتا او په مظاهره کوونکو یې بریدونه غندلي او د میانمار د پوځ په ځینو چارواکو یې بندیزونه هم لگولي دي.
بلخوا د میانمار د پوځ مشران وایي، چې د ان سان سوچي په مشرۍ حکومت د درغلیو له لارې واک ته رسېدلی و او دوی ځکه هغه حکومت ړنگ کړ. پوځ وایي، شفافو انتخاباتو ته به لاره پرانیزي او منتخب مشر ته به واک پرېږدي.

## د کتـــاب خبـرې

# د جاسوسی پیښلړ RAW, ISI او د سولې وهم

◎ لیکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتیا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شیبې




۲۵

### د جګړې سیاست

سېنها: پاراکرم عملیاتو (Operation Parakram) په ۲۰۰۲ کال کې وروستی ځل طبیعي وضعیت تهدید کړی دی او ښاغلی دولت هم په حکومت کې و.
دولت: ښه مثال مو ورکړ. ښایي دا به د واجپای یوازېنی انتخاب و، ځکه کله چې جنرالان تیار نه وي، جګړه نه کېږي. پر څه شي جګړه کوې او له جګړې به څه تر لاسه کړې؟ نو موږ پوځونه پولې ته واستول او موږ دې کار ته تحمیلي ډیپلوماسي وویله.
سېنها: پاکستان دې کار ته په کومه سترګه وکتل؟
دوراني: د سپټمبر ۱۱ هم ژر پسې را تلونکې وه او خدای پوهېږي چې د هند پر پارلمان د برید تر شا به حقیقت څه و. دې برید ډېرې ستونزې وزېږولې.
که څوک پر دې باور وي، چې د سپټمبر له ۱۱مې وروسته موږ دې ته خوشاله وو، چې د نړۍ د زبرځواک د لومړۍ کرښې متحدین به یوو، اعصاب یې له لاسه ورکړي دي. جګړه په افغانستان کې وه، خو د جګړې لاره له پاکستان څخه ورغلې وه. همدارنګه په همدې وخت کې هند هم دا وړاندیز امریکا ته ورکړ چې پاکستان خپله ترهګر دی، موږ به مو په افغانستان کې ښه متحدین یوو او داسې نور. همدارنګه په دې اړه هم چا فکر کړی دی، چې که جګړه په ختیزه پوله کې ډېره شوې وای، نو؟ که کوچنۍ غلطي هم شوې وای، خلکو به هېڅکله هم له یاده نه ایستله.
د سپټمبر له ۱۱مې وروسته امریکایانو پر افغانستان برید وکړ، همدارنګه د پارلمان له برید وروسته هند هم د برید لپاره بهانه پیدا کړه. ښایي د واجپای په ذهن کې به پر پاکستان یرغل نه و، خو حد اقل په سیاسي توګه دوی مجبور وو یو څه یې کړي وای.
هند څرنګه غبرګون ښيي؟ له ۲۰۰۱ کال راهیسې همدا لویه ستونزه ده او موږ هم په دې لټه کې یوو، چې د ممبیي، پټان کوټ، پارلمان او اوړي پېښو په اړه قناعت ښونکې حللاره پیدا کړو. زه په هماغه وخت کې په سعودي عربستان کې وم، خو دا مې زړه منلې وه، چې جګړه نه کېږي.
جګړه ډېرې بدې پایلې لرلی شي. پولې ته د پوځونو استول مجبوریت و، خو جګړه انتخاب دی؛ دا انتخاب باید هېڅکله ونه ازمویل شي. هستوي وسلې او د متحدو ایالتونو شتون پاکستان ته قوت ورکوي. دې ته هستوي-غیر هستوي ستراتېژیک پاراډوکس وایي.
کله چې پوځي تیارۍ نیسـئ او بېرته په شا کېږئ؛ وروسته پوهېږئ چې هېڅ ګټه یې ونه کړه یا یې ډېره کمه ګټه وکړه. د هند او پاکستان په اړه د پګواش په کنفرانسونو کې مني دېکشېت، د IDSA جاسجیت سېنګ او نورو ډېرو کسانو زما د مقالې ملاتړ وکړ-ما یوه مقاله «د ګواښونو راکمولو قانون» په نامه چې بیا وروسته جاسجیت سېنګ خپره کړه، لیکلې وه-ما په دې مقاله کې ویلي و چې زه دې پایلې ته رسېدلی یم چې د دواړو هېوادونو د ګواښ وسایل، چې د پاکستان د ګواښ وسله هستوي وسلې او د هند غیرهستوي وسلې دي، د وروستي ځل لپاره د ګواښ لپاره کارول شوې دي او نور ښایي ونه کارول شي.
پاکستان مثبت پرمختګ هم کړی دی. زموږ پوځ د ډېرې مودې لپاره څو ځله په غیر نظامي دندو ګومارل شوی دی او ستاسو د پوځي تیاري له کبله له اتو تر لسو میاشتو پورې به ټول پوځ د جګړې په ډګر کې و. ښایي د جګړې لپاره به یې نور تمرین هم کاوه.
سېنها: آیا د هند نظامي تیارۍ په پاکستان کې د تشویش د پیدا کېدو لامل نشو؟
دوراني: که به دواړه مخالفې قواوې مخامخ سره ولاړې وې، هېڅوک به هم ارام نه و. د حالاتو د خرابتیا شونتیا ستونزې جوړوي. ما د هند د نظامي تیاري په وخت کې له ځینو کسانو سره خبرې وکړې. احسان‌الحق چې په هماغه وخت کې یې ISI رهبري کاوه راته وویل چې نه، جګړه نه کېږي او پولې ته د پوځ راوستل مجبوریت و او باید همدا کار یې کړی وای. دا کار زموږ په ګټه دی، دا کار د هند پیسې مصرفوي.
ډېرو مهمو کسانو دا فکر نه کاوه چې جګړه به وشي. خو پر رسنیو حساب کېده چې د ګړۍ زنګ یې چالان ساتلی و.
دولت: هو، زه منم چې جګړه ښه انتخاب نه دی. جګړه هېڅ ګټه نه لري. موږ پخوا هم څو جګړې کړې وې چې هېڅ ګټه یې نه درلوده، پرته له دې چې پاکستان ختیځ پاکستان (بنګله‌دېش) له لاسه ورکړې، خو ختیځ پاکستان یې هم د ۱۹۷۱ کال د جګړې له کبله له لاسه نه دی ورکړی، بلکې تر دې مخکې یې نور ډېر احمقانه کارونه کړي وو.
هو، واجپای لاهور ته لاړ او وې ویل( هم جنګ نه هوني دین ګې.) مانا دا چې پرې به نه ږدو چې جګړه وشي. میا صېب به هم هرومرو په هماغه غوندېه کې و. د مشرف له دې خبرې وروسته چې جګړه ښه انتخاب نه دی. منموهن سېنګ وروستی کس و، چې د جګړې په اړه یې فکر کاوه.
خو ښایي هر وخت به یو داسې لېونی هم وي، چې په سر کې یې دا ورګرځوي چې جراحي حمله ښه کار دی. نو که جګړه هم نه وي، یو به پیدا شي او و به وایي چې موږ باید پاکستان ته درس ورکړو. چېرته دا شیان پیلېږي او ختمېږي؟ دا چې څه به کېږي، په اړه یې وړاندوېینه ستونزمن کار دی.
**دوام لري...**

# رهنورد پوهنتون

◀ حمیدالله حمیدي



رهنورد پوهنتون چې په مزارشریف ښار کې موقعیت لري، په ۱۳۹۳ کال کې یې د لوړو زده کړو موسسې په چوکاټ کې پر فعالیت پیل کړی دی. د رهنورد پوهنتون د علمي معاون او اوسني سرپرست ښاغلي امان الله شفاهي په وینا، دوی له پیل راهیسې د دریو پوهنځیو: معالجوي طب، ستوماتولوژۍ او حقوقو او سیاسي علومو په چوکاټ کې خپلې چارې پر مخ بېولې، خو په ۱۳۹۴ کال کې یې د ښوونې او روزنې پوهنځی هم رامنځته کړ.
ښاغلي شفاهي زیاته کړه، دوی اوسمهال ټول څلور پوهنځي لري چې د ډېپارټمنټونو شمېر یې په دې ډول دی: حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی دوه ډېپارټمنټونه، ښوونې او روزنې پوهنځی اووه ډېپارټمنټونه، معالجوی طب پوهنځی پنځه ډېپارټمنټونه او ستوماتولوژي پوهنځی هم دوه ډېپارټمنټونه لري.
ښاغلي شفاهي زیاته کړه، اوسمهال په رهنورد پوهنتون کې ټول ۳۲۵۰ محصلین په فعال ډول پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې له ۶۰ تر ۶۵ سلنې پورې هلکان او پاتې ۳۰ تر ۳۵ سلنې پورې یې ښځینه محصلینې تشکیلوي.
د ښاغلي شفاهي په خبره، رهنورد پوهنتون په ۱۳۹۷ کال کې له لوړو زده کړو موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع وکړه.
د رهنورد پوهنتون سرپرست ښاغلي امان الله شفاهي وویل، دوی د ماسټرۍ پروګرام د رامنځته کولو لپاره د لوړو زده کړو وزارت له قوانینو سره سم د اعتبار ورکړې دوې پروسې پای ته رسولې او د دربیمې هغې په بشپړولو سره به رهنورد د لوړو زده کړو موسسه د ماسټرۍ پروګرام هم ولري.
ښاغلي شفاهي همدا راز زیاته کړه، د رهنورد پوهنتون د فارغ شوو محصلینو شمېر نظر پوهنځیو ته توپیر کوي، داسې چې د حقوقو او سیاسي علومو له پوهنځي څخه یې تر دې دمه په خپلو څلورو-پنځو دورو کې له ۲۵۰۰ څخه تر ۳۰۰۰ پورې محصلین فارغ کړي دي او د یاد پوهنځي د فراغت لړۍ له ۱۳۹٦ کال څخه پیل شوې ده.
د معالجوي طب پوهنځی یې سږ کال لومړۍ دوره محصلین فارغوي او له ستوماتولوژي پوهنځي څخه یې تر دې مهاله په دوو دورو کې محصلین فارغ کړي او له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه یې هم له پیله تر اوسه په یوه یا دوو دورو کې محصلین فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.
ښاغلي شفاهي همدا راز وویل، دوی هر کال په مختلفه کچه نوي محصلین جذبوي، په تېرو کلونو کې د ځوانانو لېوالتیا او د هغوی اقتصادي او د ژوند شرایطو ته په کتو د نوو محصلینو د جذب شمېر نسبت اوس وخت ته ډېر و، داسې چې په ۱۳۹٦ کال کې یې شاوخوا ۳۰۰۰ نوي محصلین جذب کړل، په ۱۳۹۷ کال کې یې له ۲۰۰۰ څخه تر ۲۵۰۰ پورې، په ۱۳۹۸ کال کې له ۱۵۰۰ څخه تر ۱٦۰۰ تنو او په ۱۳۹۹ کال کې یې هم ۱۳۵۰ نوي محصلین جذب کړي دي چې د تېرو کلونو په پرتله یې شمېر یو څه کم دی.
ښاغلي شفاهي زیاته کړه، دوی د محصلینو مالي او اقتصادي حالت او د پوهنتون د څېړنیز ټیم پرېکړو ته په کتو د تخفیف په برخه کې تصمیم نیسي او خپلو محصلینو ته په مختلو کچو تخفیف وړاندې کوي.
د رهنورد پوهنتون یاد مسوول وایي، دوی خپلو پوهنځیو ته په کتو درسي ټایمونه ترتیب کړي دي، داسې چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی یې هم په سهارنۍ او هم په ماښامنۍ دوره کې درسي چارې پر مخ بیایي، خو پاتې درې نور پوهنځي یې بیا یوازې په یوه درسي ټایم کې خپلې چارې پر مخ بیایي چې د سهار له اتو بجو پیل او وروسته له غرمې په دریو بجو پای ته رسېږي.
ښاغلي شفاهي همدا راز وویل، دوی په رهنورد پوهنتون کې د خپلو محصلینو لپاره یو مجهز او بډایه کتابتون لري، چې شاوخوا شل زره جلده کتابونه پکې شته او په یوه وخت شاوخوا پنځوس محصلین کولای شي مطالعه پکې وکړي او خپل د اړتیا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي. نوموړي زیاته کړه، دوی پر دې کتابتون سربېره له پوهنتونه د باندې یو بل کتابتون هم لري چې شاوخوا ۱۵۰۰۰ جلده کتابونه لري او پر محصلینو سربېره ښاریان او هېوادوال کولای شي ګټه ترې واخلي او وخت ناوخت مطالعه پکې وکړي.
ښاغلي امان الله شفاهي زیاته کړه، دوی په هېواد کې د ننه په ځانګړې توګه په مزارشریف ښار کې له ډېرو خصوصي پوهنتونونو او د بلخ ولایت له دولتي پوهنتون سره نېکې او اکاډمیکې اړیکې لري او همدا راز له هېواده د باندې له ځینو ترکي او قزاقستاني پوهنتونونو سره هم د متقابلو اړیکو او همکاریو تفاهم لیکونه لري.
د ښاغلي شفاهي په وینا، د رهنورد پوهنتون فارغ شوو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړل شوي دي او د همدې اسنادو د شتون پر بنسټ د دوی ډېری محصلین د کار په بازار کې پر دندو بوخت دي او ځینې نور یې هم د ماسټرۍ او لوړو زده کړو د دوام په موخه له هېواده د باندې تللي دي.
د رهنورد پوهنتون سرپرست امان الله شفاهي همدا راز وویل، دوی په هره پوهنځي کې په مختلفه کچه استادان لري، د نوموړي په وینا، په معالجوي طب پوهنځي کې له ۱۰۰ څخه زیات استادان لري، په حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي کې له ۳۰ څخه زیات او په ښوونې او روزنې پوهنځي کې هم له ۲۵ تر ۳۰ پورې استادان لري. د نوموړي په وینا، په ټوله کې رهنورد پوهنتون شاوخوا ۲۰۰ استادان لري چې په فعال ډول محصلینو ته تدریسي چارې پر مخ وړي. نوموړی زیاتوي، له دې استادانو څخه شاوخوا ۷۰ سلنه یې د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور یې لسانس دي.
ښاغلي شفاهي زیاته کړه، دوی په رهنورد پوهنتون کې خپلو محصلینو ته د پام وړ خدمتونه او اسانتیاوې وړاندې کوي، له دې ډلې کولای شو مجهز کمپیوټر لب، مجهز کتابتون، د معالجوي طب او ستوماتولوژي پوهنځیو د محصلینو لپاره پرمختللي او مجهز لابراتوارونه او د عملي کار خونو ته اشاره کولای شو. پر دې سربېره، مجهز ټولګي، ارامه فضا او مجهز درسي امکانات هغه اسانتیاوې دي چې په رهنورد پوهنتون کې د محصلینو په واک کې ورکړل شوي دي.
ښاغلي شفاهي همدا راز وویل، دوی د پوهنتون د پرمختګ او لا بډاینې لپاره ځینې پلانونه لري چې تمه ده په نږدې راتلونکي کې به پلي شي، لکه د اعتبار ورکړې د دربیمې مرحلې بشپړول، پر یوه معیاري او نړیوال پوهنتون باندې بدلېدل، د ماسټرۍ پروګرام رامنځته کول او داسې نور هغه پلانونه دي چې په نږدې راتلونکي کې به یې عملي کړي.
په پای کې ښاغلي امان الله شفاهي زیاته کړه، دوی له دولت او په ځانګړې توګه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي څو د خصوصي پوهنتونونو لپاره لا ډېره پاملرنه وکړي، ملاتړ یې وکړي او یاد ملاتړ او پاملرنه یې باید ټول شموله وي.
همدا راز ښاغلي شفاهي په خپلو خبرو کې د ځینو هغو نیمګړتیاوو په هکله وویل، چې په پوهنتون کې یې لري، لکه د څېړنو د برخې پیاوړي کول، د کتابتون لا بډایه کول، د تخفیف په برخه کې لا ډېرې اسانتیاوې رامنځته کول، ځکه چې یادې موسسې ته ډېر محصلین مراجعه کوي او ډېری له دوی څخه د لوړو زده کړو د دوام په خاطر مالي او اقتصادي توان نه لري او داسې نورې کوچنۍ ستونزې چې د نوموړي په وینا په نږدې راتلونکي کې به حل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۳ |
| € | ۹۰,۷ |
| Rp. | ۴۹۵ |
| ₹ | ۱۰٦۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# چطور با تنظیم ساعت بیولوژیک بدن خواب راحت‌تری داشته باشیم؟

مهدی فیروزی

ساعت بیولوژیک بدن یا ساعت زیستی (چرخه‌ی ۲۴ ساعته) می‌تواند تحت تأثیر نور یا تاریکی قرار بگیرد و باعث شود بدن فکر کند موقع خواب یا بیداری است. ساعت بیولوژیک بدن خواب و بیداری، دمای بدن، تعادل مایعات بدن و سایر عملکردهای بدن همچون زمان گرسنه‌شدن را کنترل می‌کند. برای آشنایی بیشتر با ساعت بیولوژیک بدن خود و ارتباط آن با مشکلات مرتبط با خواب و راه‌های درمان آن و نیز نحوه تنظیم ساعت خواب این مقاله‌ی تا اخر بخوانید.

مشکلات خوابی که ساعت بیولوژیک بدن با آنها مواجه می‌شود، با هورمونی به نام ملاتونین (melatonin) رابطه دارند. این هورمون به بدن کمک می‌کند به خواب برود و در خواب بماند. روشنایی و تاریکی روی چگونگی ساخت هورمون ملاتونین در بدن تأثیر می‌گذارند. بیشترین مقدار ملاتونین در شب ساخته می‌شود. در طول روز، روشنایی به بدن می‌گوید ملاتونین کمتری بسازد. اگر شب‌ها زیر نور مصنوعی کار کنید، احتمالاً بدن‌تان ملاتونین کمتری نسبت به مقدار نیازش تولید خواهد کرد.

ساعت زیستی برخی افراد، همچون آنهایی که تا دیروقت نمی‌توانند بخوابند و در مقابل آنهایی که خیلی زود به رختخواب می‌روند، با بیشتر مردم تفاوت دارد. دیگرانی که مشکلات خواب دارند شاید از ساعت زیستی عادی برخوردار باشند، اما باید آن را با شرایط جدیدشان، مثلاً کارکردن در شیفت شب تنظیم کنند.

چیزهایی که ممکن است بر تولید ملاتونین تأثیر بگذارند و می‌توانند موجب مشکلات خواب بشوند عبارت‌اند از:

پرواززدگی: گذر از مناطق زمانی، ساعت بیولوژیک بدن را مختل می‌کند. کسی که دچار پرواززدگی شده مشکل خواب دارد، چون ساعت بیولوژیک بدنش هنوز با منطقه‌ی زمانی جدید تنظیم نشده است. بدن فکر می‌کند هنوز در منطقه‌ی زمانی قبلی است. مثلاً، اگر از شهر کابل به سوی سیدنی استرالیا پرواز کنید، هفت منطقه‌ی زمانی را طی می‌کنید. یعنی سیدنی ۷ ساعت و نیم از تهران جلوتر است. وقتی به سیدنی می‌رسید، ساعت ٦ و نیم صبح است، اما بدن‌تان فکر می‌کند هنوز در ساعت ۱۱ شب گذشته‌ی کابل است. بدن‌تان می‌خواهد بخوابد، اما در سیدنی روز تازه آغاز شده است.

تغییر برنامه‌ی خواب: وقتی شب‌ها کار می‌کنید و در طول روز می‌خوابید، ساعت بیولوژیک بدن باید مجدداً تنظیم شود تا بگذارد در طول روز بخوابید. انجام این کار گاهی اوقات دشوار است. کسانی که در شیفت شب کار می‌کنند یا شیفت‌های چرخشی دارند، ممکن است با خواب در طول روز مشکل داشته باشند و شب‌ها، وقتی باید برای کار هوشیار باشند، احساس خستگی کنند.

محیط خواب: نور یا سروصدای بیش‌ازحد باعث می‌شود بدن حس کند موقع خواب نیست.

بیماری: بعضی بیماری‌ها و مشکلات سلامتی هم می‌توانند بر الگوی خواب تأثیر بگذارند. این بیماری‌ها عبارت‌اند از زوال عقل (دمانس)، آسیب‌دیدگی سر، بازیابی از کما و افسردگی شدید.

برخی داروهایی که بر سیستم عصبی مرکزی اثر می‌گذارند هم ممکن است الگوی خواب را تحت تأثیر قرار دهند.

عوارض مصرف مواد مخدر و الکل: برخی مواد مخدر باعث مشکلات خواب می‌شوند. کسانی که پیش از خواب الکل مصرف می‌کنند هم ممکن است بیدار شدن از خواب در شب را تجربه کنند و نتوانند بخوابند.

سایر مشکلات خواب مربوط به ساعت بیولوژیک بدن عبارت‌اند از:

سخت به‌خواب‌رفتن در شب‌ها، بیدارماندن تا دیروقت یا حتی ساعات اولیه‌ی بامداد و بعد هم احساس خستگی و نیاز به خوابیدن طی روز؛ کسانی را که چنین مشکلی دارند، معمولاً «شب‌زنده‌دار» می‌نامند. این مشکل رایجی است و معمولاً در اوایل دوره‌ی نوجوانی آغاز می‌شود. کسانی که یکی از والدین‌شان چنین مشکلی دارند، احتمال بیشتری دارد که خودشان هم به آن دچار شوند.

خوابیدن ساعت ۸ شب یا زودتر و بیدارشدن زودهنگام، بین ساعت ۳ تا ۵ صبح. اگر زود بیدار می‌شوید، می‌توان شما را «سحرخیز» نامید. این مشکل برخلاف بیدارماندن تا دیرهنگام و دیر بیدارشدن، چندان رایج نیست. کارشناسان مطمئن نیستند که چه چیزی باعث این سحرخیزی می‌شود.

اینکه مشکل خواب مرتبط با ساعت بیولوژیک بدن را چگونه درمان می‌کنید، بستگی به این دارد که مشکل از کجا ناشی می‌شود. اینها چند توصیه برای رایج‌ترین مشکلات هستند .

مصرف مکمل‌های ملاتونین می‌توانند به تنظیم ساعت بیولوژیک بدن کمک کنند. مطالعات نشان می‌دهند که ملاتونین علائم پرواززدگی را برای کسانی که هم به شرق و هم به غرب سفر می‌کنند کاهش داده است.

توصیه‌ها در مورد زمان و مقدار مصرف آن، میان محققانی که درباره‌ی ملاتونین تحقیق کرده‌اند متفاوت است. پزشکان توصیه می‌کنند: ملاتونین را پس از تاریکی در روزی که حرکت می‌کنید و تا چند روز پس از رسیدن به مقصد، پس از تاریکی مصرف کنید.

اگر به سمت شرق سفر می‌کنید، چند روز پیش از پرواز، ملاتونین را شب‌ها مصرف کنید.

ایمنی و اثربخشی ملاتونین کاملاً آزمایش نشده است. مصرف مقدار فراوان آن ممکن است خواب‌تان را مختل و در طول روز بسیار خسته‌تان کند. اگر کسی صرع دارد یا مواد ضدانعقاد خون همچون وارفارین (کمادین) مصرف می‌کند، پیش از مصرف ملاتونین حتماً باید با پزشک خود مشورت کند.

قرص‌های خواب‌آور اسزوپیکلون (لونستا) و زولپیدم (آمبین) هم برای پرواززدگی بررسی شده‌اند. اگر وقتی به مقصد رسیدید، پیش از خواب این قرص‌ها را مصرف کنید، ممکن است در خواب بهتر به شما کمک کنند. سردرد، سرگیجه، سردرگمی و احساس معده درد از عوارض جانبی مصرف این قرص‌ها هستند. اما به‌خاطر داشته باشید که هیچ قرصی را بدون مشورت با پزشک مصرف نکنید .

اگر در شیفت شب یا شیفت‌های چرخشی کار می‌کنید، می‌توانید با تاریک و ساکت نگه‌داشتن اتاق خواب و کلا با مراقبت از خودتان، خواب خوبی داشته باشید. تجویز دارو یا مکمل‌های بدون نسخه هم در برخی موارد می‌توانند مفید باشند. اینها چند توصیه برای خواب خوب برای کسانی است که در چنین شیفت‌هایی کار می‌کنند:

اتاق خواب‌تان باید تاریک باشد. پرده‌ها را کاملاً بکشید یا از چشم‌بند خواب استفاده کنید.

از گوش‌گیر استفاده کنید تا سروصدایی نشنوید.

در ساعات منتهی به زمان خواب، الکل یا کافئین مصرف نکنید.

اگر امکانش وجود دارد، در زمان استراحت میان کار، چرت کوتاهی بزنید .

از پزشک خود بپرسید آیا می‌توانید مکمل های غذایی یا دارو استفاده کنید یا نه. پزشکان معمولاً توصیه می‌کنند مکمل یا دارو فقط برای مدت کوتاهی مصرف شود.

برخی افراد فارغ از اینکه چه می‌کنند، با خواب شب و بیدارماندن در طول روز مشکل دارند. این مسئله ممکن است برای ایشان مشکل‌ساز باشد یا نباشد، بستگی به سبک زندگی و کار یا برنامه‌ی تحصیلی‌شان دارد. اگر شما هم از آن شب‌زنده‌دارها هستید، نکته‌هایی هستند که می‌توانید امتحان کنید تا شاید زودتر بخوابید.

زود بیدار شدن هر روز در ساعت مشخصی، فارغ از اینکه چه ساعتی خوابیده‌اید: آخرهفته‌ها (یا روزهایی که مجبور نیستید از رختخواب بلند شوید)، به خودتان اجازه ندهید بیش از ۱ ساعت طولانی‌تر از وقتی که مجبورید به محل کار یا مکتب بروید، بخوابید. اگر این شیوه برای شما اثری ندارد، می‌توانید این درمان‌ها را هم امتحان کنید:

نور درمانی: در این مورد، نور درمانی یعنی به محض اینکه بیدار شدید، خودتان را در معرض روشنایی قرار دهید. می‌توانید از نور خورشید یا جعبه‌ی نور (لایت‌باکس) به مدت ۳۰ تا ۴۵ دقیقه روزانه استفاده کنید .

# عامې روغتیا وزارت: افغانستان د کرونا ویروس د دریېمې څپې له ګواښ سره مخ دی

عامې روغتیا وزارت وایي، چې په افغانستان کې د کرونا ویروس د برېتانوي ښې تثبیت او دغه راز په ګاونډیو هېوادونو؛ پاکستان او ایران کې د ویروس د دې ډول زیاتېدو اندېښمن کړې دي.

د وزارت د ویاند مرستیال میرویس علیزی وایي، دا مهال دوی د کرونا د دریېمې څپې له ګواښ سره مخامخ دي. هغه زیاتوي: «لومړۍ څپه کې د کرونا مونږ تجربې ترلاسه کړې، دویمه څپه کې مو هغه خلاوې ډکې کړې، چې درلودې مو، اوس مونږ د دریېمې څپې په تهدید کې قرار لرو، د دریېمې څپې د مخنیوي لپاره مونږ لازم تدابیر لرو.»

دا په داسې حال کې ده، چې په دې وروستیو کې په ننګرهار کې د کرونا ویروس د بدلون موندلې ښې اووه مثبتې پېښې ثبت شوې دي. عامې روغتیا وزارت وایي، له همدې پېښو وروسته دوی له پاکستان او ایران سره پر پوله پرتو ولایتونو کې د هغو کسانو واکسین پیل کړی، چې هېواد ته ستنېږي.



علیزی وایي، دوی پر راستنېدونکو سربېره، د ټولنې ځینې نور وګړي هم د واکسین کړۍ کې شامل کړي دي. دی زیاتوي: «د کرونا د نوي ډول د مخنیوي لپاره د عامې روغتیا وزارت په ۳۴ ولایتونو کې منظم تدابیر نیولي دي، لومړی دا چې له پاکستان او ایران سره په سرحدي ولایتونو کې د مهاجرینو د واکسین چارې پیل شوي دي، د دې ترڅنګ د هغو کسانو واکسین هم پیل شوی چې له پنځوسو کلونو یې عمر لوړ دی او ضمیموي ناروغۍ لري، بندیانو او کوچیانو او هغو کسانو ته هم واکسین پیل شوی چې بې وزلۍ کې ژوند کوي.»

د کرونا وبا له پیله تر اوسه عامې روغتیا وزارت د کووېډ-۱۹ ناروغۍ ۵٦۵۹۵ رسمي پېښې ثبت کړې او له دې ډلې ۲۴۹۷ تنه مړه شوي دي، خو اندېښنې دا دي او چارواکو هم ویلي چې نارسمي شمېرې له دې څو برابره زیاتې دي.

د یادونې ده چې څه باندې میاشت وړاندې افغانستان کې د کرونا ضد واکسین پیل شوی او تر دې مهاله څه باندې ٦۱ زره کسان واکسین شوي دي.

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
WAYGAL PRINTING CO
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com

یکشنبه د ۱۴۰۰ د وري ۱۵مه | د ۲۰۲۱ د اپریل څلورمه | ۷۰۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۵ | ۲۲ | ۳۳ | ۱٤ | ۲۶ | ٦ |
| ۷ | ۵ | ۱٤ | ۹ | ۱۳ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۲ | لمر ختل ۰۵:۳۷ | ماسپښين ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰٤:۲۵ | ماښام ۰٦:۱۹ | ماخوستن ۰۷:۳۸

## نړۍ




## ایران: د بندیزونو تدریجي لرې کېدل نه منو، باید په یوه وخت لرې شي



ایران د نړۍ له شپږو پیاوړو قدرتونو سره د مذاکراتو په درشل کې پر دغه هېواد د لګېدلو بندیزونو د تدریجي لرې کولو وړاندیز رد کړی دی.
د ایران د بهرنیو چارو وزارت ویاند سعید خطیب زاده له پرېس ټلوېزیون سره، چې د ایران حکومت یې تمویلوي، په تازه مرکې کې ویلي چې دوی د بندیزونو تدرجي لرې کېدل نه مني، بلکې دغه بندیزونه باید په یوه وخت لرې شي. بلخوا د سپني ماڼۍ ویاندې جین ساکي ویلي چې د ۲۰۱۵ز کال د اټومي تړون د احیا کولو په موخه په ویانا کې د راتلونکې اونۍ مذاکرات به پر هغو ګامونو متمرکز وي، چې ایران او متحده ایالاتونه یې باید دې موافقې ته د ستنېدو په برخه کې پورته کړي. ساکي زیاته کړې: «د بحث وړ اصلي موضوعات به هغه ګامونه وي چې ایران یې باید دې موافقې ته د ستنېدو لپاره پورته کړي او هغه ګامونه چې امریکا یې هم باید دې موافقې ته د ورستنېدو لپاره د بندیزونو د نرمولو په برخه کې واخلي.»
د امریکا د پخواني ولسمشر ډونالډ ټرمپ اداره په ۲۰۱۸ میلادي کال کې په یو اړخیز ډول له دې موافقې ووته او پر ایران یې اضافي سخت بندیزونه ولګول. د ولسمشر جوبایډن ادارې د دې موافقې احیا ته چمتووالی ښودلی، خو ویلي یې دي چې له هغه مخکې تهران باید د دې موافقې له مخې پر خپلو ژمنو عمل وکړي.

راپورونه:
## امریکا په یوه تازه اقدام کې پر ځینو روسي چارواکو بندیزونه لګولي

امریکا د روسیې د دفاعي صنعت پر یوه مشر چې ادعا کېږي استخباراتي مامور هم دی او نورو روسي چارواکو بندیزونه لګولي او نومونه یې په تور لیست کې شامل کړي دي. د امریکا فدرالي تحقیقاتي ادارې پر خپله ټویټرپاڼه لیکلي، چې د ۵۸ کلن الکساندر کورشونکوف د نیولو هڅه کوي او پر ده شک دی، چې له کمپنۍ څخه یې د روسیې په ګټه د سوداګریزو اسرارو د غلا کولو دسیسه کړې ده. یاده اداره وایي، کورشونکوف د روسیې په یونایټېډ انجن کمپنۍ کې چې د الوتکو یوه دولتي کمپنۍ ده، کار کاوه او د دې ترڅنګ یې د روسیې د بهرنیو استخباراتي خدماتو لپاره د استخباراتي مامور په توګه دنده لرله.
د امریکا د فدرالي تحقیقاتو اداره وایي، یونایټېډ انجن کمپنۍ په ۲۰۰۹ میلادي کال کورشونکوف د خرخلاو او بازار موندنې رییس وګوماره. د ده دنده دا وه، چې د لوېدیځ د الوتکو شرکتونه وهڅوي چې له یونایټېډ انجن کمپنۍ سره کار وکړي، چې د روسیې هوایي ټکنالوژۍ وده وکړي. دغې ادارې دا هم ویلي چې کورشونکوف د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۸ کلونو ترمنځ د امریکا د الوتکو له شرکتونو څخه د پټو معلوماتو د غلا کولو هڅې کړي او همدا راز یې د هوایي صنعت امریکایي انجینران د روسیې د پي ډي ۱۴ ایرو انجن د بیا ډیزاین کولو لپاره کرایه کړي دي.

## احزاب سیاسی: برخی حلقات خاص در برابر روند صلح مشکل ایجاد می کنند



هفت حزب مطرح کشور در آستانهٔ برگزاری نشست استانبول دربارهٔ صلح افغانستان با ایجاد کمیتهٔ سیاسی دیروز در یک نشست خبری در کابل موضع‌شان را دربارهٔ این نشست اعلام کردند. اعضای این کمیته می‌گویند که برخی حلقات خاص به بهانه‌های متفاوت در تلاش ایجاد مشکل در برابر روند صلح‌اند.
اعضای این کمیته تأکید می‌کنند که نباید به این حلقات اجازه داده شود که روند صلح را با چالش روبه‌رو کنند؛ اما آنان از این حلقات نام نمی‌برند. همایون جریر، عضو حزب اسلامی به رهبری گلبدین حکمتیار در این نشست می‌گوید: «در رابطه به این‌که بعضی حلقات می‌خواهند در برابر صلح به بهانه‌های مختلف مشکل ایجاد کنند، این واقعیت دارد. تقاضای ما این است که شرایط حساس است، همه دست‌به‌دست هم بدهند و سعی کنند آخرین شانسی که ما داریم، در نشست ترکیه با دست پر برگردیم.»
در عین حال، اعضای این کمیته تصریح می‌کنند که همه طرف‌ها در نشست استانبول دربارهٔ صلح افغانستان باید با یک دیدگاه واحد بروند و طرح‌های متفاوت نمی‌تواند کارساز باشد.
نشست استانبول قرار است در ماه اپریل با حضور مقام‌های بلندپایهٔ دولت افغانستان و گروه طالبان برگزار شود. زمان دقیق برگزاری این نشست هنوز مشخص نشده است، اما منابع به برخی از رسانه‌ها گفته‌اند که این نشست در تاریخ ۱٦ اپریل برگزار می‌شود. این نشست با پشتیبانی آمریکا، میزبانی ترکیه و مدیریت سازمان ملل متحد برگزار می‌شود.

## ژوند

## لویه موخه؛ غوره پلان غواړي



موږ ځینې وخت د خپلو افکارو په عملي کولو کې نیمګړتیاوې لرو. د بېلګې په توګه، یوې موخې ته د رسېدلو لپاره چې باید څو کاله په نظر کې ونیسو، موږ څو میاشتې په نظر کې نیسو او بیا پایله دا وي چې ډېر ژر له خپل کار څخه ناهیلي کیږو، له حده زیات پښېمانه کیږو او هغه ټولې هڅې او پلټنې بیا بې ګټې ګڼو؛ خو د خپلو محاسبو له نیمګړتیاوو څخه نه یو خبر. حقیقت دا دی چې لوړو موخو ته د رسېدلو لپاره باید له یو کال څخه زیات کوښښ وکړو، په دې کې هیڅ پوښتنه یا دلیل نه پیدا کیږي، چې خپلو موخو ته د رسېدلو لپاره یوڅه اوږده موده په نظر کې ونیسو. په یاد مو وي چې تل نا اټکل شوې ستونزې رامنځته کیږي، چې تاسو باید هغه له منځه یوسئ، خو دا ستونزمن کار نه دی؛ ځکه تاسو د دې ټولو ستونزو لپاره لازم وخت په نظر کې نیولی دی او کافي وخت لرئ، یوازې باید کار وکړئ.

## ایچ ټي سي خپل نوی ځیرک موبایل معرفي کړ



ایچ ټي سي کمپنۍ تر اوږد ځنډ وروسته خپل نوی عادي ورځنیاوې لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړ. دغه ځیرک موبایل وایلډ فایر ای۳ نومول شوی دی. دغه ځیرک موبایل کې د میډیا تېک کمپنۍ هېلیو پي۲۲ اوکټا کور ډوله پروسېسر کارول شوی دی او ۴/۳ ګېګابایټ رم او ۱۲۸/٦۴ ګېګابایټ د فایل ثبتوني ورتیا لرونکي بڼې به ولري. وایلډ فایر ای۳ نومي دغه ځیرک موبایل کې ٦,۵ انچه ایل سي ډي ډوله او ایچ ډي پلس ریزلوشن لرونکي مخپاڼه ورکړل شوې او د ګوتې نښې سېنسر شاتنۍ برخه کې ځای پر ځای شوی دی. دا موبایل ۴۰۰۰ ملي امپیره ورتیا لرونکې بېټرۍ لري، چې له چټک چارج څخه ملاتړ نه کوي. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ۱۳ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اېنګل، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله پورټرېټ کامرې پکې شاملې دي. مخکینۍ برخه کې ۱۳ مېګاپکسله ورتیا لرونکې سېلفي کامره هم لري. ایچ ټي سي کمپنۍ نړیوالو بازارونو ته د دغه ځیرک موبایل وړاندې کولو نېټې او بیې په اړه هېڅ ډول معلومات نه دي ورکړي.

د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب
عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په ای ټي ام او ماستر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همدا راز د میرمنو حساب له ټیټ ارتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او 50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالي چمتو کوي.

عزیزی بانک
Azizi Bank
WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT
www.azizibank.af
1515